# په شفاهي ادب کښې د مېړاني تصور: د انتهونيو گرامسي د کلتوري حاکميت د تهيوري په تناظر کښې

# Conceptions of "Masculinity" in Pashto Folklore: Contextualizing Antonio Gramsci's Theory of Cultural Hegemony

ډاکټر برکت شاه کاکړ*

**Abstract:**

This paper tends to investigate themes of masculinities in the preview of patriarchal structures of Pashtun society. The author has used a prism of the Italian-Marxist dissent and intellectual, Antonio Gramsci's (1891-1937) reckoned theory of Cultural Hegemony. This theory a post Marxist critique of the cultural hegemony of the ruling classes that are adopted by the oppressed social and political classes as natural, inevitable, and a matter of the common sense. While unpacking the indicators of this theory, and developing an analytical framework which contains some indicators, the author has directly plunged into the main course that is the depiction of the peculiar hegemonic masculinity in the Pashto folk genres. In this connection historical construction of hegemonic masculinities in the Pashtun society is explored, and the nexus of war, violence, exclusion and masculinity is established through literature review. Pashto folk poetry and proverbs are particularly analyzed to know the patterns inherently consist in the oral text performances uttered in the peculiar cultural milieu of *Pashtunwali*. The etymological roots of womanhood are probed in Pashtu language which like other languages of the world has peculiar gendered otherness of women. The study of Tappa, Kakari Ghari, Da Attan Narey and the bridal laments called "Angai" are particularly analyzed to unveil the structures that hold up the paranoia of men hegemony as naturally constructed phenomenon. Analysis of the poetic genres is carried out in the context of gender studies and critical discourse analysis, which strive to analyze discourse beyond the symptomatic levels.

**Key Words:** Pashtunwali, Folk Poetics, Cultural Hegemony, Hegemonic masculinities, Patriarchy, Discourse Analysis.

انساني ټولني د واک، اختيار، غلبې، بالادستۍ او حاکميت بيلابيل رنګونو او اندونه لري چي د تاريخ په پاڼو کښې د انسانانو شعوري او غير شعوري هڅې ښکارندويه دي. د ليکل شوي يا د شفاهي تاريخ اوږد واټن د انسانانو تر مينځ د وېش او توپير و پديدې (Phenomenon) فطري بيان کړئ دی. خو د نولسمې او شلمې صدۍ فکري مباحثو د حقيقت پر پخوانيو کسرونو دنوو سوالونو کاڼي په دومري دوامداره توګه ورولي دي چي د ټولنيز، فطري، سياسي او ادبي حقيقتونو پر پخواني

---

* Assistant Professor, Department of Pashto, UOB

تعبیرونه شکونه را پیدا شو. کارل مارکس د جرمن آئيډیالوجي په باب دټولني او شعور په حقله داسي تاریخي بیانیه وړاندي کړې ده.

"It is not consciousness of men that determines their being, but, on the contrary, their social being that determines their consciousness".

**ژباړهٔ:** "انسان د خپل وجود ادراک د شعور په وسیله نه پیدا کوي، بلکه ټولنیز عمل په انسان کښې شعور پیدا کوي ".

د دې اند مطلب دا شو چي ګوا شعور یو فطري شی نه دی بلکه دا د یوه سماج (ټولني) پیداوار دی. دا هري ټولني د اوسېدونکو د شعور خپلي سطحي وي. تصورات، نظریې، او مفکورې په یوه مادي کلتور کښې پیدا کیږي او بیا دغهٔ تصورات او نظریې د انسانانو د طرز فکر برخه جوړ شي، او انسانان د هم هغهٔ په اثر کښې خپل ژوند کوي. د مارکس د دې اند سره چي شعور انساني ټولنه تشکیلوي بېلابېل سوالونه راپورته کړي دي. یوه لورته په ټولنه کښې د ویري، کرکي او کړني پخواني تصورات تر سوال لاندي راغلې او بل پلو ته د ټولني د لوړ او کښتهٔ، اشراف او اجلاف، اصل او کم اصل ، نر او ښځي سره تړلي ټولي مفکورې او ذهني روئیو باندي هم شکونه را پیدا کیږي.

"مارکس فکر درلود چي سرمایه دار (پانګه وال) یواځي د معاشي استحصال ( زبېښن) په زریعه د زیارکښانو (پرولتاریه) وینه نه زبېښي بلکه هغهٔ د داسي نظریې ، قدرونو او اخلاقیات ایجاد کړي چي د ټولني د کمزورو ډلو استحصال ته نور دوام ورکوي **Heywood, (1994 ) . (1)**

په ټولنه کښې خلګ څه ډول د کلتور یا ټولنیز فشار تر اثر لاندي منظم کړل شي،د هم دغهٔ سوال علت د مارکس د مرګه یو کال وروسته زېږېدلي اتالوي انتهونیو ګرامسي کیندلی دی. د یاودني ده چي د شلمې صدۍ مارکسي فلسوف **Antonio Gramsci's (1891-1937)**انتهونیو ګرامسي د کلتوري غلبې **(Cultural Hegemony)** تصور وړاندي کړ، هغهٔ دریځ لري چي په کلتوري توګه ګڼي ټولني (متنوع) د یوه ّمخصوص غالب ګروه (ډلي) تر اثر لاندي راشي او یو نوی کلتورو زېږوي.**(2)**

دغهٔ د حاکمي طبقې پر محکومه طبقه د تسلط ورو ورو یو عادي (عام) خبره شي او دغهٔ وروسته یو معروضي حقیقت او د فطرت قانون هم و ګڼل شي. د حاکمي طبقې لخوا چي کوم استبدادي کلچر یا نظریه په وجود کښې راشي هغهٔ لاژمي یا ناګزیره ، د ټولو انسانانو لپاره ګڼوره او د ټولو ستونزو د هوارولو یواځینی حل ښکاري خو په اصل کښې د حاکمي یا سرامایه داري (بورژوا) طبقې د کلتوري وقدرونه ، اداب او زوقونه د یواځي د هغوی په ګټهٔ دي، محکومه خلګ په دې پلمه و غولول شي او هغوی د خپلو ضرورتونو پر ځای د حاکمي او بورژوا ټولني د غوښتنو په بشپړهٔ کولو پسي روان شي. ګرامسي وائي چي د غالبي طبقې د عادتونو، قدرونو، کرکو، کړنو، زهني روئیو، او د ژوند تېرولو

انداز په غیر محسوس او غیر جبري توګه و محکومو طبقاتو او ډله ته انتقال شي، او ورو ورو دغه خبره د عقل سلیم یا **(Common Sense)** برخه و ګڼل شي.

کله چي موږ ګرامسي حاکمیت او غلبې د تصور اطلاق پر یوه قبائلي ټولنه کښې وکړو، نو هلته هم موږ ته په نظر راځي چي د ټولني واکمنو او زورورو ډلو یو داسي کلچر تخلیق کړی دی چي پکښي د ځیني وګړو، انسانانو حیثیت لومړیتوب لري او ځیني بیا دلته هیڅ واک و اختیار او حیثیت لري. دغه توپیر که څه هم د ژبو، رنګونو، نسلونو، شته منو او نادارو، نارینه او ښځینه، ځایي او مهاجرو، او هم داسي ډېرو نورو شکلونو کښې زموږ مخته راځي خو دلته به یې موږ د نارینه توب او مېړاني د تصور د ګرامسي د کلتوري حاکمیت په تناظر کښې وسنجوو.

د کلتوري حاکمیت تر څنګ ، د ګرامسي په افکارو کښې دوئم مهمه مضمون د خلګو د خوښې یا رضا جوړولو عمل دی، چي په انګلسي کښې **'Manufacture of consent'** وئیل شوي دي. **(Gramsci 1971)**

د ګرامسي د دې تصور ریښې هم په کلتوري حاکمیت کښې ښخي دي، معنا دا چي بالاسته ډله یا طبقه د طاقت د طبعي استعمال پر ځای داسي تګ لاري او اوزار خپلوي چي محکومه خلګ په دې قانع کړي هیڅ ډول حاکمیت، بالادستي یا استحصال وجود نه لري. د دې لپاره هغه تعلیمي او کلتوري اداري او اوزار استعمالوي، په اوسني وخت کښي د ورځ پاڼو، ټي وي چینلانو، او ټولنیزو رسنیو (سوشل میډیا) کردار او د تعلیمي ادارو د نصاب یا ښوونیزو موادو رول موږ ته ډېر ي ژوندی بېلګي (مثالونه) په لاس راکوي. محکومه ډلي خپله بقا د حاکمي ډلي په خپور شوي کلتور کښې لټوي، او هغه ته ځیني خبري لکه مقابله، د منډې دمعیشت آزادي، انفرادیت، د ځیني ژبو او کلتورونو حاکمیت،سرمایه دارانه شرافت،نسلي، تهذیبي او صنفي توپیر، نرواکي او داسي ډېر نوري خبري فطري و برېښي او خلګ پر دې قانع او صابره شي.

**د کلتوري حاکمیت تصور اونرواکي:**

د ګرامسي د کلتوري حاکمیت تصور د ډېرو پېچلو ټولنیزو اړیکو او تعلقاتو په سنجولو کښې کاورل شوی دی. د ټولنیزو علومو او د جینډر سټډیز په ډګر کښې د دغه تصور د "حاکمانه مرادنګي" په بڼه هم ځان څرګند کړی دی.د دې تصور بنیادي دریځ دا دی چي لکه څه ډول چي سرمایه دار (بورژوا) چي د سرمایه دارانه نظام او د خپل تسلط د دوام لپاره کلتور په کار اچوي، هم دغه ډول په یوه نرواکه ټولنه کښې نارینه پر ښځینو خپل حاکمیت، بالادستي او باداري قائمه ساتي. د نرواکۍ چي د نارینه توب او ښځینه توب د کومو اضدادو په څېر وړاندي کړي دي هغه و نر ته د مطلق حاکم او ښځي ته د محکومي حیثیت ورکوي. د حاکمانه مردانګۍ تصور هم د طاقت سره تړلی دی، لکه څه ډول چي د فرانس معروفه فلسوف میشئیل فوکو وئیل چي طاقت هر

ځای شتون لري، یا طاقت پاشلی دی(Foucault 1991) ، او په عامو ټولنیزو تعلقاتو کښې موږ ته د طاقت یا جبر مظهر/پدیده په نظر نه راځي خو طاقت خپل وجود بیا هم ژوندی او تاند ساتي. د طاقت دغهٔ شکل د نظریاتو، عقائدو، افکارو ټولنیزو قدرونو ، رسم ورواج، قانون، کرکو کړنو او اساطیرو په بڼه پائیښت کوي. (3)

د کلتوري حاکمیت د دغهٔ نظریې اطلاق یواځې د قامي ریاست پر جبري فریمورک نه کیږي، بلکه که موږ د "نرواکۍ" یا د نر د حاکمیت لرغونی او روایتي نظام د دې تهیوري په تناظر کښې هم سنجولی شو. نر واکي چي په فارسۍ او اردو کښې ورته "پدرشاهي" او په انګریزي کښې ورته وئیل کیږي خو په اصل کښې دغهٔ ټکی هم د لاطیني ژبې څخه وانګریزي ژبې ته لار کړې ده. د انګریزي "Merriam Webster" قاموس دا ټکی د خاندان د مشر یا سربراه په معناۀ کښې راخیستی دی یا بیا د عیسائیت د مذهبي ادارو د مشر په معناۀ کښې کارولی دی(4).

انسانانو د دوامداره ټولنیز عمل په نتیجه کښې ژبه او د ژبې سره تړلي کړني یا کارونه تخلیق کړي دي. که چیري موږ د مثالي "نارینه " او مثالي "ښځینه " پر تصور باندي غور وکړو نو په دې حقیقت به ورسیږو چي دا د حقیقت دوه بېخي متضاد صورتونه دي، د بېلګي په توګه یو ښهٔ نر هغه دی چي د ښځینه خصوصیاتو څخه پاک وي، یوه ښه ښځه هغهٔ ده چي د ټولني ورکړل شوی ښځینه کردار خپل کړي او پر هغهٔ قناعت وکړي. دغه دوه رنګي (Dichotomy) د ټولني هغهٔ رغښتونه تخلیقوي او بیا د وخت په تېرېدو سره د نارینه او ښځینه تفاوت او توپیر فطري و برېښي.

د مېړاني او نارینه توب تصور:

مېړانه د نړۍ د زیاتره نرواکه (پدرشاهي) ټولنو یو ګډ ټولنیز (انساني) تخلیق دی چي په تصور عمومي خبره شوې ده، د پښتونولۍ په نالیکلي دود دستور کښې د دې تصور کړۀ وړۀ بیان شوي دي، د یو ټولنیز قدر په توګه د مېړاني تقاضې څه ډول بشپړۀ کیږي او په دې ترځ کښې دپښتو شفاهي یا فوکلوري شاعرۍ دغهٔ تصور ته څه ډول رجوع کړې ده، د هم دغو سوالونو د ځوابونو په لټون پسي په دې مقاله کښې پل راخیستل شوی دی.

په دغه مقاله کښې د مېړاي تصور او د هغهٔ سره تړلي ټولنیز فشار او د میړاني د هوډ د تر سره کولو ټوله پدیده (مظهر) د جینډر سټډیز په څېړنیز چوکاټ کښې کتل شوې ده- د یاودني وړده چي د ادبي تهیوري او کره کتني دغه مکتب د پس ساختیاتو(۱۹۶۶)، نسائي (ښځینه) کره کتني (۱۹۶۰)وروسته د ۱۹۷۰ په لسیزه کښې د کره کتني و نړۍ وال ډګر ته را کښېوتی- دغه تهیوري د فرائیډ د نظر سره کلک اختلاف لري، او د میشیئل فوکو له قوله د پس نوابادیاتي نړۍ کښې علم او معنویت هغو سپین پوستو تشکیل کړي دی چي په غیر انساني توګه یې نړۍ تر اوږدې مودې پوري مستعمره کړې وه-

**د نر او ښځې د توپير بنيادونه: تاريخي پس منظر:**

که چيري موږ د لرغوني او قبائلي پښتني ټولني د معنويت رغښت **(Etymological Structure)** ته ځير شو نو هم دغه پورتني صفتونو په ټولنيز نظام کښې يو داسي ساختياتي بڼه خپله کړې ده چي چيلنجول يې يا له منځه وړل يې ډېر ستونزمن کار دی. په نړۍ کښې دنراو ښځي تر مينځ دغۀ توپير چي هر نر په قدرتي توګه زړؤر، جنګيالی، نه ويرېدونکی، او په ذهني او طبعي توګه تر ښځه پياوړی دی،تر ډېره وخته شتون درلودلی دی-د ښځي د محکومۍ قيصه ذياتره تاريخ ليکونکي د زرعي دور څخه را پيلوي . انګريز ليکوال پېټر واټسن په خپل اثر **(Ideas A History from Fire to Fured)**کښې ليکي چي د زراعت و لورته د انسان ارتقائي يون د **14000**څخه راپيل شوی دی له څه وخت څخه چي هغۀ د تخّم کرلو چل زده کړ، وني او درختي يې خانګي کول پيل کړل". **(5)**

هم دغۀ ډول ذياترو پاکستاني ليکوالان لکه ډاکټر مبارک علي، علي عباس جلال پوري او حمزه علوي هم دغۀ تاريخي اوښتون (بدلون) د ښځي په ټولنيز حيثيت کښې د بدلون پيلامه ګڼي-د اردو ليکوال سبط حسن په ليکنو کښې هم دغۀ لامل په نظر راځي او هغوی زرعي انقلاب قابو لس زره کاله پخوانی ګڼي". **(6)**

د ښځي د کمترۍ زهني روئيې او دهغې ټيټ، او ابتر ټولنيز حالت او حيثيت دغۀ عمل تر زرګونو کلونو پوري دوام درلودلی دی ، ځکه خو د نر او ښځې تر مينځ هغۀ توپير چي ټولني او انسانانو جوړ کړئ ؤ، هغۀ قدرتي او فطري وګڼل شو. البته په يورپ کښې پر پاپائيت او بادشاهت د عقلي او سائنسي علومو بري د توپير دغه اوږده شوګره پای سحار کړۀ. خصوصا د زناني د استحصال هغۀ رغښتونو و غندل شول چي د کليسا يا ګرجا لخوا به د ښځو د استحصال لپاره کارول کيده.

د ښځو د بشپړۀ انساني وجود د بحالۍ ټولنيزه مبارزه د اولسمي ميلادي صدۍ ډيره راورسته پيل شوې ده، سائنسي پرمختګونو اول وشول، او په علمي ډسکورس کښې د زنانو د کمتر ټولنيز حيثيت سوالونو د نولسي صدۍ په وروستيو کښې پيل شوي دي. د شلمي صدۍ په دريمه لسيزه کښې د فرينکفرټ سکول فلسوفانو د صنفي توپير سره سره پر هغو نورو مهم سوالونه هم غږ پورته کړ چي په عمومي توګه انسانانو ته قدرتي ښکارېدل. له هم دې ځايه د ساختياتو هغه طلسم ماتېدل پيل شو چي د نرواکۍ (پدرشاهي) په اوږده دوره کښي يې پر انساني ټولنو بشپړۀ حاکميت درلودلی ؤ. له هم دغو علمي او تحقيقي ګروپونو د وومن اسټډيزاو جينډرسټډيز ډسپلن په وجود کښې راغلل چي د نارينه توب، ٓمېړاني، نرواکۍ، هغه ټول رغښتونه يې په تنقيدي توګه و څېړل چي پکښې په ټولنه کښې د سياسي، ټولنيز، کلتوري، علمي. تعليمي او قانوني حاکميت ته جواز ور کوي ، او ښځه د ژوند پر پرده د يو معمولي، غير مکمله، کمزورې او بې صلاحيته انسان په صفت انځوروي.

**د پښتني ټولني د مېړاني بيانيه** :

په لفظي توګه ټکی "مېړانه" خپل وضاحت په خپله کوي، يعني د مېړنتوب يا نارينه توب صفت ته مېړانه وئيل کيږي. مېړۀ په عام توګه وه يو داسي کس ته وئيل کيږي چي مائينه لري، له دې پرته ټولنه هغۀ چا ته مېړه وائي چي د نارينه توب صفتونه په ځان کښې ولري. د دې مطلب دا شو چي په اصطلاحي توګه مېړانه يا مېړنتوب د واده کولو څخه زيات د مېړاني د صفتونو سره علاقه لري.

په پښتو قاموس درياب کښې د مېړۀ دغه لاندينيی تعريف زموږ و مخته راځي:

"[مې – ړه] (اسم –واحد-مذکر) خاوند، مالک، څښتن، آقا، مارخ (۲) بهادر ، بادر، باعزت، دروند ، دواده ځلمی"**(7)**

که چيري موږ دروانښاد قلندر مومند په هم دغۀ قاموس کښې د مېړۀ د صفت لکه "مېړاني" او "مېړنتوب" معنا و لټوو نو په هغۀ کښې هم باتوري، نرتوب، شجاعت او زړورتوب په مخه راځي. البته که چيري په ښځه کښې هم دغه صفت وموندل شي نو هغۀ ته بيا "مېړه مخه" ښځه وئيل کيږي. په درياب کښې د مېړۀ مخي تعريف څه داسي شوی دی.

"[مې-ړۀ-مه-خې] (صفت – مونث) هغۀ ښځه چي مېړانه او د مېړنو نور صفتونه لري**(8)**"

د مېړنتوب د نور وضاحت لپاره که موږ د خوشحال بابا لاندينی شعر ته ځير شو نو خبره به نورو هم روښانه شي:

د مزريو مېړنتوب په لشکر نه شي
متې هر وخت يواځي په خپل ځان شي(9)

خو په مجموعي توګه يوه نرواکه •پدرشاهي) ټولنه چي پر يو "ائېډئيل نر" کوم فشار يا بار ږدي په هغه کښې ډېري غوښتني راځي. د بېلګي په توګه دا چي يو مېړۀ هغۀ دی چي ګټۀ کوي، نفقه/ډوډۍ پيدا کوي، له بل چا څخه تمه نه کوي، د توري او ږغا هنر درلودل، که چيري څوک بد ورسره وکړي ژر بدله اخيستل، د سيال غوندي ژوند کول، پښتو پالل، خپل هوډ/بول تر سره کول ، پر خپل کور، کهول، بچيانو او خصوصا ښځه ننګ کول، هم دا ډول پر وطن ننګ کول، ميلمستيا کول،يو کمزوري کس ته پناه ورکول، بدرګه کېدل، له ميدانه تېښته نه کول، او داسي ډېر نور صفتونو او خويونه دي چي د پښتني ټولني تر سنګ يې د نړۍ نوري هغه ټولني هم د ځان قدرونو ګڼي چيري چي ژوند د نرواکۍ تر اثر لاندي د ژواک (کلچر) کړۀ وړۀ تخليق کړي دي.

دپاسنيو حوالو څخه يو مشترک صفت چي موږ ديو آئيډئيل "مېړۀ" يا "نر" را ايستلی شو هغۀ د هغۀ ذړورتوب، شجاعت، ننګ، غيرت، سيالۍ ، په يو سر جنګېدل او داسي نور ډېر صفتونه دي چي د نارينه د جنګ و جبلت او د ځانګړتيا و ايکو ته وده ور کوي.

د مېړاني يا مردۍ متضاد نامردي هم ده. د مثال په توګه خوشحال بابا دغه توپير داسي يا د کړی دی.

مرد به نه شي په گفتار ځو پيدا نه کړي کردار
چي دي و کنځي مرد نه يې که له تا نه وي په ډار
چي څه دی خو انتقام دی د مردانو کاروبار
هم مهره لري هم زهر ښه مردان وي لکه مار
نامرد فخر په نسب کا مرد نه مور لري نه پلار (10)

د خوشحال خان بابا په پورتني شعرونو کښي موږ ته د يوې نرواکه ټولني او د مرانګۍ آئين بنيادي توکي په نظر راځي.دا بېله خبره ده چي خوشحال بابا چي د اوولسمي صدۍ په کومو نامساعدو حالاتو کښې ژوند کاوه او هغهٔ ته په وراثت کښې چي کوم درې ځېزونه لکه د مغلو منصب، دختکو سرداري او د يوسفزيو بدي (دښمني) پاتي شوې وه (دراني، ۲۰۱۴) د هغهٔ څخه د خلاصون يوه لاره چي شتون درلود هغهٔ توره او مېړنتوب ؤ. بل دا چي دا ستونزه يواځي د پښتنو سره نه ده پاتي شوې، بلکه د مرکزي آسيا له لوري چي کوم حمله کونکي په وار و هند ته د پښتونخوا تر کنډو راوښتي دي هغوی په دوامداره توګه داسي ټولنيزه فضا جوړهٔ کړې وه چي پکښي جنګ، ننګ، مېړنتوب او باتوري زيات فطري او انساني لامل ښکارېدل.

خو کله چي موږ په شلمي يويشتمي صدۍ کښې د پښتنو ټولنيز ساخت (رغښت) او تنظيم ته و ګورو نو بيا هم موږ ته د ژوند په ټولنيزو، سياسي، معاشي او قانوني چارو کښې د نرواکۍ هغهٔ طاقت په نظر راځي چي د خوشحال خان بابا د وخت سره ډېر ورتوالی لري.

**د نرواکۍ اداره جاتي څېړنهٔ**:

د مارکسي فلاسفر انتونيو ګرامسي د کلتوري حاکميت تصور دغه خبره سپينه کړه چي پر نړۍ څلور سوه کاله غلبه لرونکي غرب يو داسي کلتور تخليق کړی دی چي مغلوبه قومونه نور مغلوبوي او د دې کلتور خپل بشپړهٔ سياسي هدفونه او ګټي هم دي. که چيري موږ د نرواکۍ او د نارينه توب په تناظر کښې د نر غلبه، مطلق حاکميت او پيدائشي برتري ته ځير شو نو هم دغهٔ د غلبې د کلتور يو پخوانی بڼه ده.

"The form of masculinity that is hegemonic at a given time and place involves a particular institutionalization of patriarchy; we might say it embodies a particular strategy for the subordination of women". (11)

**ژباړه** : "په يوه مخصوص زمان و مکان کښې د مردانګي/نارينه توب غلبه/ حاکميت د نرواکۍ يو داسي اداه جاتي بڼه تشکيلوي چي په حتمي توګه د ښځي د شکېلولو/مغلوبولو پيلامه جوړېږي."

د نر واکۍ (پدرشاهي) نړۍ د نر نړۍ وي، د نړۍ د ډېرو نورو ټولنو غوندي پښتني ټولنه هم د نارينه توب تر فکري او اقداري نظام تر اثر لاندي تشکيل شوې ده- خصوصا په نولسمه او شلمه ميلادي صدۍ کښې پښتانه د هند د کوشنی وچي او د منځيني آسيا د هغو قومونو په صف کښې و ګڼل شول

چي ټولنيز او کلتوري رغښت يې د نر واکۍ تر کرخت نظام لاندي تشکيل شوي دي. د انساني ټولنو د تاريخ څېړنه دا خبره روښانه کوي چي د شلمې صدۍ څخهٔ ډېرو قبائلي ټولنو د نوي رياست اداره جاتي ساخت (سټرکچر) ته مخه کړې ده او خپل قبائلي شناخت يې په يو اجتماعي رياستي او ملي شناخت کښې داسي ويلي کړی دی چي په ټولنه کښي د انسانانو تر مينځ نسبتا بهتر ټولنيز نظام وضع شوی دی. خصوصا د ښځو، ټولنيزو او مذهبي اقليتونو (لږکيو) حالت او حيثيت پکښې دوارهٔ بدل شوي دي. خو د پښتني سيمي مخصوص سامراجي، استبدادي تاريخ او را تپل شوي جنګونو د قبائليت څخهٔ د مليت و لورته دغه يون نه يواځې کمزوری کړی دی، بلکه د ژوند په ډېرو څانګو کښې يې پر شا تمبولی دی. ځکه نن په نړۍ کښې پښتانه تر ټولو لويه ژوندی نسبي قبائلي ټولنه لري".(12)

د قبائليت پاسنی جوړښت، بنيادونو او فکري نظام په بنيادي توګه د نرانو په واکمنۍ، اوپرفارمنس / کاکردګۍ ولاړ دی (Peberdy,2011)(13) ، د نر د واکمنۍ او حاکميت ذکر د مذاهبو په رواياتو کښې هم راغلی دی. خو په ټولو صورتونو کښې د قبائلي ټولني مجموعي علم، تجربه او مشاهدات او ذهني روئيې د نر حاکميت او د ښځي تعبيداري او په ټولنه کښې د هغې يو غېر تخليقي، غير پيداواري اور غير علمي او تعليمي رول د فطرت امر ګڼي.

د نارينه توب په تصور او ذهني روئيه کښي چي کوم پټ يا خفيه طاقت نغښتی دی هغهٔ د نرواکه ټولنه د زياتره نرانو په ګټهٔ تماميږي. پښتانه د هند د کوشنی وچي د نورو قومونو په مقابل کښې زيات مردانه او نرواکه بيان شوي دي. خصوصا په نولسمه او شلمه صدۍ کښې چي کوم يورپي ليکوالان راغلو هغو پښتانه د نورو هندکيانو په پرتله زيات "نارينه" بيان کړي دي- د سهيلي پښتونخوا د بوري يوه تکړهٔ ليکواله پروفيسر ذوبيده جلالزئي چي دا مهال په روډز آئي لينډ کالج کښې د انګريزي ژبي او ادب استاذه ده ، په خپله يوه مقاله کښې دې خبري ته داسي اشاره کړې ده.

Later English dichotomization of Afghans and other Indians in terms of masculinity rendered the Pathan a “worthy and sporting adversary”(14).

**ژباړه**: په وروستيو کښې انګريزي ليکوالانو د افغانانو او هندکيانو تر مينځ يوه داسي دوه رنګي خوره کړه چي پکښې افغان زيات نارينه صفته او پياوړي دښمنان ياد شوي دي"-

دا چي پښتانه نارينه خلګ دي، دوی جنګيالي دي، جنګ ته هوسيږي ، د خپلي قبيلې د ناموس لپاره هر فرد يا ګروه د خپل ژوند تر سرحد هم تيريږي. د اوسنی زمانې پياوړی امريکائي پښتون پوهه چارلس لنډهوم فکر کوي چي د نورو قومونو په په مقابل کښې پښتانه نه اېل کيدونکي ځکه دي چي هغهٔ زيات نارينه دي، هغهٔ نارينه ځکه دي چي تر اوسه يې لاد ژوند په حقله فکر او فهم د قبائليت په ولاړو اوبو کښې خيشت دی. هغهٔ ليکي:

“They feel contempt for "effeminate" peoples who must bow to the authority of government, and consider their own society, despite its poverty, to be preferable”.(15)

**ژباړه**:"د هغوی (پښتنانۀ) په زړونو کښې د ښځولکو (د ښځو غوندي) نرانو لپاره ډېره کرکه موجوده وي، هغه کسان چي د حکومت و حکم ته غاړه ږدي او هغه خپل نظام تسلیموي، د غربت باوجود هغوی (پښتنانۀ) خپل ځانګري ټولنیز ژوند ته ترجیح ورکوي".

**ننګ او جنګ: پر نر او ښځه ټولنیز فشارونه**

لکه څه ډول چي د مارکس د شعور بیانیه موږ ذکر کړۀ چي انساني شعور د یوې ټولني ورکړل ژوی وي، هم دغۀ ډول د یو مثالي نر او مثالي ښځي تصور هم انساني ټولني د خپل مخصوص مځکني، سیاسي، مذهبي او معاشي حقیقتونو تر اثر لاندي جوړوي. په عموي توګه ټولنه د "نر" د حاکمیت هر دلیل مني او د ښځي د اطاعت او تعبېداری هر انداز ته د اخلاقي او فطري اصولونو نوم ورکوي.

کله چي موږ په پښتني قبائلي ټولنه یا نورو قبائلي ټولنو کښې د ښځي د حالت او حیثیت تعین کوو، نو هغۀ په هره حواله تر نر ډېر ټیټ، کمتر او غیر اهم دی. خو د نر د حاکمیت سره ځیني داسي ذمه واریاني هم دي چي هغه د پرله پسې کړاؤنو او ستونزي سره مخامخ کوي. د خپل کور او کهول لپاره دخورک، څېښاک، پوښاک ټول سهولتونه برابرول، د کلیوال یا ټولنیز ژوند رسمونه، رواجونه، سیالي او جانداري ټولني د نر پر اوږو اچولې ده. د خاندان، قبیلې او وطن ننګ د هغۀ پر سر پور وي. پښتون نر اوږدې مسافری کوي، د مځکي له شکمه روزي راباسي، د نورو سره د برابری لپاره او د سیالي پر ځای کولو لپاره د هر ډول سخترو څخه تېرېږي. د نر دغۀ ټولنیز رول هغۀ ته د مور په شیدو ورکول کیږي. کله چي موږ د پښتو د اولسي شاعری خصوصا د "ځانګو" یا د "میندو" د سندرو ،چي "الله هوللو" هم ورته وائي، تنقیدي او متني څېړنه کوو نو موږ په دې حقیقت خبرېږو چي یوه پښتني مور خپل زوی ته څه ډول پېغام رسول غواړي. لیکوال او فوکلورسټ داور خان داوړ(۱۹۹۷)په خپل کتاب کښې یو ه داسي سندره د راوړې ده.

الاهو للو: الله هو سه . الله هو سه

زما جانه الله هو پلار دي تللی دی په جنګ

ښه تېره توره تر څنګ سر به ورکاندي په ننګ

په وطن راغی فیرنګ الله هو سه . الله هو سه

زما جانه الله هو

لله هو سه . الله هو سه زما جانه الله هو

پلار دي تللی په غزا دښمنان به کړي فنا

وام به پر ښردي په دنیا نن به راسي یا سبا

الله هو سه . الله هو سه زما جانه الله هو

دښمنان راته په څو ټول وطن سو راته وور

د زړګي نه مي ځي نو خداى دي ګډ کي په دوى لو
الله هو سه . الله هو سه زما جانه الله هو (16)

د نرواکي ټولني دغهٔ نالیکلی دستور د طاقت او اختیار تعین د یو انسان د جنس پر بنیاد کوي. یعني که په هم دغهٔ ځانګو کښې یو ماشومه پرته وي نو د هغې لپاره به بدلي ښېلي وي.

که چیري موږ د انجونو د ځانګو سندري وګورو، نو د بیلګي په توګه دا لاندیني سندره ډېره په زړهٔ پوري ده:

ورور مي تللی دی غلې له رابه سي غرمې له
ماله به پلي راوړي پلي به ورکم غوا له
غوابه ماله پی، راکي پی، به ورکم سیند له
سیند به ما له کاڼی راکي کاڼی به زه خدا ے له ورکم
خدای به ما له ورور راکي وروره وروره زر راسه
ستا پر لنګی، جنګ دی شین قمیص مي تنګ دی (17)

دلته ځیني داسي کوډونه دي چي موږ ورځځهٔ په اصطلاح د نرواکی، یا مرادنه حاکمیت د وېشلي او پاشلي طاقت اندازه په ډېر ښهٔ توګه کولی شو. د ښېلګي په توګه دلته "ورور" غلې له تللی دی، هغهٔ خور لره پلی، راوړي، پلي خور غوا لره ځکه ورکوي چي چي لغوا پی، واخلي او هغهٔ یې سیند لره ورکړي چي هغهٔ کاڼې ورلره ورکړي او بیا دغهٔ کاڼې خدای لره ورکړي د دې لپاره چي خدای یو بل ورور ورلره ورکړي. په دې ټوله سندره کښې د هغه انجلی، خپل ذات ورک دی، هغهٔ له وروره د ورور لپاره یو څه غواړي.

دحاکمانه نرواکی، یو اړخ دا هم دی چي د نر او ښځو زّمه واریاني یې د زرګونو کلونو په اوږدو کي داسي وېشلي دي چي اوس یې فطري رنګ اخیستی دی. که چیري یو نر د هغه صفتونو څخه چي ټولنه یې غوښتنه کوي لاس په سر شي یا په جنسي توګه ناکاره ثابت شي نو بیا ورته نامرد ، نرښځی یا هیجړه هم وئیل کیږي. نارینه توب او مېړانه دنسائیت یا ښځتوب د جمله صفاتو څخه په تضاد (Binary) کښې وي. د ښېلګي په توګه ژړل ، اوښکي تویول، وېرېدل، جنګ نه کول، غصه نه کول، په کم اواز ږغېدل ،ژر جذباتي کېدل، له کوره نه راوتل، ډېري خبري کول،پر سر ټیکری یا پړونی اچول،له کوره د باندي نه راوتل، د کور کار کول،دکوشنیانو روزنه کول ، پر مخ وېښتهٔ (ږیره او برتونه) نه درلودل ، او داسي نور ډېر کارونه دي چي دنرواکي ټولني نر او ښځو ورته ښځینه صفتونه وئیلي دي.

**نارینه توب او مېړانه د پښتو شفاهي متل په تله کښې** :

د نرۍ د نورو "نرواکه" ټولنو په ډول د پښتنو په لرغونې قبائلي ټولنه کښې هم د نر حاکمیت، واک، اختیار او برتري یو تسلیم شوی معروضي حقیقت ګڼل کیږي. د دې خبرې ثبوت موږ د کلتوري عمل او ټولنیز رغښت، دودونو او رواجونو د تنقیدي څېړنې څخه هم کولی شو، او پښتنو د لرغونې ټولنې د ادبي اصنافو څخه هم دا خبره تر ډېره حده جوتیږي. د بېلګې په توګه لاندیني متلونو موږ ته دا حقیقت را پېژني چې ټولنې په تاریخي توګه د یوې ښځې څه ډول تصور په خپله غېږه کښې روزلی دی.

تو پر زنانه – هم پر ښه هم پر ګنده
ښځه په کور کي ښه وي یا په ګور کي
د ښځي پېر سوټی دی
چي ډب نه وي ادب نه وي
ابا پر کور نسته، د ادې ډار نسته
بابا به وئیل، ادې به منل
ښځه د پښو څپلۍ (پېزار) ده
د ښځي عقل په پونده کي دی
توکل یې نر، اندېښنه یې ښځه
لور د نېستۍ ده یا د بدۍ

په زړۀ پوري خبره دا ده چي د صنفي توپیراتو په حقله چي په پښتو متل کښې کوم کرکجن پېغامونه شتون لري هغۀ یواځې د پښتون کلتور تخلیق نه دي. کوم (۱۰) متلونه چي لوړ په پښتو کښې موږ و لوستل که یې د پښتنو سره نزدې مېشته څنګلوري قامونه لکه براهوی، بلوڅ او فارسیبان سره مقائسه کړو نو هم دغۀ متن به د متل په جامه کښې مخ ته راشي. ما پخپله په کال ۲۰۰۷ کښې د یوې موسسې لپاره د صنفي تقسیم او تشدد د سطحي د کچلو په حقله په پښتني او دري ویونکو سیمو کښې کار وکړ، د ښځي د وهلو کوم جنایت ته چي په کوم انداز په دري کښې جواز درلودی هم هغۀ په پښتو کښې هم ؤ.

د دې متلونه څخه د ښځتوب او نرتوب یا مېړنتوب دوه متضاد عکسونه را پورته کیږي. مېړنتوب د ښځتوب اپوټۀ تصور دی. د مېړانې متضاد که څۀ "سپیتانه" ده، خو په عام توګه دغۀ تضاد د ښځینه شناخت په بڼه هم په نظر راځي. که چیري یوه ښځه د مېړنتوب دغۀ چوغه واغوندي نو بیا ورته "مېړه مخه" یا "نرګټۀ" وئیل کیږي. خو په دواړو صورتونو کښې متل د مېړانه هم هغۀ تصور په تواتر سره تکراروي کوم چي د یوې نرواکي ټولنې په اجتماعي حافظه کښې نقش شوی وي.

د متلونو د متني څېړني څخه يوه خبره دا هم جوتيږي چي په دې کښې يوائې د ښځينو د ټيټ حيثيت په حقله دلائل نه شته، بلکه دا د ټولني د نورو ډلو لکه نور مذهبونو، مسلکونو،ټولنيزو ډلو، هنرمندانو "متل" د ښځي په حقله هغۀ خبره صادقه بولي کومه چي ټولني سنجولې ده. لکه څۀ ډول چي د کارل مارکس د قول څخه مور دا پېژندل چي شعور ټولنه تخليقوي، ټولنه د شعور پيداوار نه وي، نو هم دغۀ ډول دلته چي کوم نسائي يا ښځينه شعور پيدا شي هم هغۀ په متل، يا نورو منثور او منظوم کلامونو کښي هم په مخۀ راځي.

**په ټپه کښې د نرواکۍ کوډونه :**

ټپه د پښتو فوکلوري اصنافو يو مهمه صنف دی چي نن هم د پښتنو په زياترو سيمو کښې وئيل کيږي. د دې صنف له لاري چي پر نر کوم ټولنيز فشار را تپل شوی دی هغه مور ته په ډېرو تاريخي او واقعتي ټپو کښې په نظر راځي.

نر جنګ ته هڅول خو هسي د ټولنيز فشار يو څرګنده نتيجه ده- خو ددغۀ کار غبرګون چي کله بيا د ښځينه لخوا وشي نو نر د خپل ژوند د نارينه توب تر هوډ قرباني کړي-

ته د وطن په ننګ شهيد شه     په تار د ذلفو به کفن درله ګنډمه

دا کمر بند ټوپک مي راکړئ     په ما مينه جينۍ بل له ورکوينه

پختون سړی نه غلطيګي     ملا يې نرۍ وي کمربند خوړلې وينه (18)

دلته دا خبره پر خپل ځای د څېړلو ده چې د پښتونولۍ روايت چې د ننګ کوم معيارونه تخليق کړي دي هغه نېغ په نېغه د نارينه توب او مردانګۍ (Masculinity) سره تړون لري. جنګ هم د نارينه توب نخښه او صفت ګڼل کېږي ، ځکه نو دلته په نکلونو، غاړو، ټپو او نورو اولسي صنفونو کښې د ښځو پېغور تر ټولو زيات اغېزه لري.

که د مېوند د جنګ روداد راواخېستل شي نو په هغه کښې د ملالۍ ټپې يوازې داسې لامل ؤ چې دپښتنو د جنګ له ميدانه پورته شوي ګامونه يې بېرته ميدان ته يووړل. د پښتنو پر انګرېزانو د لاس بري کېدو بنيادي سوب زياترو ليکوالونو، لکه اروابناد پرېشان خټک، استاد دوست محمد خان مومند، قيام الدين خادم او نورو ډېرو څېړونکيو او تاريخ پوهانو هم دغه لامل ښودلی دی.

ډاکټر جان عالم دخپلې ايم فل په مقالې "پښتو ټپه او تلميحات" (مطبوعه پښتو اکېډمی کوټه۲۰۱۳) کښې ليکي:

"ټپې د جنګ و جدل او ميدان و مقتل دغه واړه کېفيات په خپله سينه کښې ځايولی دي. که چرته د پېرنګي او پښتون داخ وډب عکسونه ځلوي نو چرته د قبيلوي نښتو انځورونه هم ښايي...دپښتون اولس دغه رزميه صفات او تاريخي واقعات په ټپه کښې ښۀ ډېر دي". (**19**)

دمثال په توګه يو څو ټپې دياد ولو وړ دي.

که په مېوند کښې شهید نۀ شوې ګرانه لالیه بې ننګی له دې ساتینه
ستا د بیړې ټوپک نۀ زار شم په اوږه ستا دی او کړه زه درسره ځمه
په رنجک تور په وینو سور شې دبې ننګۍ آواز دې رامه شه مینه(20)
غږ شه په کټ یې جانان راوړه ږۀ مي پرې ښۀ شو چې یې په شا نۀ دي زخمونه(21)

پورتینی زیاتره ټپې ونر ته د مېړانې بلنه ورکوي، د ننګ او غیرت درس ورکوي، او په نرانو کښې دا وېره پیدا کوي چې که چیرې هغۀ د پښتونولۍ د دغۀ قدرونو چې په ټپو کښې یې ذکر شوی دی، پوره کوي نه، نو په پښتني ټولنه کښې به یې د یو سیال یا برابر مېړه په صفت ژوند کول ډېر ګران شي.
ښځې د خپل بشپړۀ انساني وجود د ثابتولو او خپلې رایې د څرګندولو لپاره هم په کار راولي. هغۀ پخپله مقاله کښې په رومن کښې ځیني ټپې لیکلي دي چې دلته یې د پښتو لیک دود سره سم راوړل شوي دي.

موزیګې کټ ته ختی نه شي د کټ په څپو کي ورله پیاسکي جوړومه
خاونده بیا دي ماځیګر کړو د ګلو لختي د موزیانو کټ ته ځینه
چې موزیګی سړو کي شمار شو زه د الله قدرت ه فکر وړی یمه

خو زما په نزد دلته چې د "موزیګي" کوم عکس څرګند شوی دی، دا هم هغۀ کردار دی چې په غاړو، متلونو، د اتڼ په نارو او نورو صنفونو کښې موږ ته په مخه راځي. زه دا فکر کوم چې د "موزیګي" ټکی هلته کارول کیږې کله چې ښځه (مائینه) د نر (مېړۀ) په مقابل کښې یا خو د عمر له لحاظه خامه وي، یا بیا په سیکه (ښکلا) او قله (قد) تر نر زیاته وي. خو په هر صورت کښې هغۀ مېړونه چې د کوره باهر یې پر مړو ایرو پل نه وي، هغۀ په عمومي توګه د مائنو یا ښځو لخوا هم غندل کیږې. دلته خبره بیا هم هغۀ د کارکردګۍ او جسماني پیاوړتیا ته راځي.

**"انګۍ" د نرواکۍ په ضد یو توانمن ږغ:**

انګۍ چونکه د سهیلي پښتونخوا بیا په تېره ږوب د ناوې، بوري، سنځاوی، زیارت، دوکۍ او نورو ځنګلورو سیمو یو ځانګړې ښځینه صنف دی چې ناویاني یې د خپل واده په ورځ په ډېر غم او ملال سره وائي او دهغې خوندکیاني (ملګري) ورسره په هغۀ وزم کښې مرسته کوي. ناوې او د هغې خوندکیاني په یوه لوی ټیکري کښې کښېني او بیا دغۀ د بیلتانه د غمه ډکي مقفا نظمیه صنف وائي.
دا چونکه دهري ناوي خپل تخلیق وي، کومه خبره چې کیږي چې په پښتني شفاهي ټولنه کښې هر کس شاعر دی هغۀ خبره دلته حقیقت شي چې د ناوې خپلي انګۍ یا چیغی تخلیقوي چې د هغې د ټول عمر ذاتي واردات یا تجربه پکښې نغښتې وي، اروابناد ابالخیر ځلاند دې صنف ته د نیمي نړۍ فریاد وئیلی دی او هم دغۀ سرلیک لاندي یې یو کتاب ورباندي تالیف کړ دی. په لاندي یوې انګۍ

کښې مور د يوې انجلۍ د داخلي کرب اندازه لګولی شو کله چې هغهٔ د خپل ورور له کوره وديږې او يو بل ولات ته په ناولده خلګو کښې تا ابده د شوند کولو په هوډ تړل کيږي.

دا د درګۍ په سر کې غنمه
شينکۍ کوتره وم ګرځېدمه
په زمي کښته دامان ته تلمه
په دوبي بيرته را ګرځېدمه
د لالا کور ؤ په نازېدمه
ادې باغچه وه کې پنډېدمه
ظالمه چيري دي و ليدمه
توپک دي ډک کرئ و دي ويشتمه
په مړۀ دي نه کړم زخمي دي کړّمه
وزر مي مات سو راولوېدمه

په پورتنی انګۍ کښې مور ځيني داسي تهيمز راخيستلی شو چې د نرواکۍ بشپړۀ کړۀ وړۀ پکښې ځرګند دي. مطلب دا چې انجلۍ خپل کور ته د لالا کور وائي، خپل ځان ته کوتره، او هغهٔ کس د چا سره چې د دې واده کيږې هغه د "ښکاري" کردار ورکول، ټپي کېدل، او بيا له پروازه رالوېدل او د الوتو د واک څخه لاس مينځل داټول داسي معروضي حقيقتونه دي چې د نرواکۍپه ټولنه کښې د ښځې د کنټرول او د هغې د ژوند په حقله د پرېکړې د حق نه ورکولو غبرګون کوي.

**کاکړۍ غاړې**:که چيري مور د سهيلي پښتونخوا وه صنفونو لکه کاکړۍ غاړې او ماتې يا آزادي غاړې وګورو، نو هم به مو د مېړاي، او جنګ تر مينځ د يو داسي تلازمې حقيقت تر سترګو شي چې د ټولني بشپړه زهني رويې به راځرګندي شي-

خور د جار سه و پټکي
پر هوډه تل مړګيان مري
خلق د نۀ منی مړانه
يو ليا بل مړ که جانانه
تا پر ځان د چټ ګمان وی
وچ يې کې بنګه جانان وی

دغاړو پرته مور په چاربېته، ټپه، سندرو، د اتڼ او نکل په نارو کښې هم داسې حماسي نظميه پېغامونه وينو چې ورڅخه دپښتني ټولنې بشپړ لاشعور او مايند سيټ را ځرګنديږي.دغاړو پرته مور په چاربېته، ټپه، سندرو، د اتڼ او نکل په نارو کښې هم داسې حماسي نظميه پېغامونه وينو

چې ورڅخه دپښتني ټولنې بشپړ لاشعور او ماينډ سيټ را څرګنديږي. که چيري موږ د رومانوي نکلونو تحليل او تجزيه وکړو، نو په هغو کښې به هم موږ په دې سد و رسيږو چې د نکلونو په پلاټ کښې "ستونزه" (Conflict) د نيکي او بدۍ د جنګ کمه د نارينه توب او مېړاني د هوډ ساتلو زياته ده. زما د دې ادعا په حقله بشپړۀ څېړنه کيدلی شي.

**پايله**: کلتوري حاکميت چې د طاقت هغه سرچينې را سپړي چې په عمومي توګه په نظر نه راځي خو د ټولنيز ساختمان په جوړښت کښې يې بنسټيز رول وي، کله چې موږ د مېړاني او نارينه توب و پديدې ته ځير شو نو په دې حقيقت پوهه شو چې قبائلي پښتني ټولنې د طاقت سرچينه تر ډېره حده د نرواکۍ سره تړلې دی، د مېړاني تصور که يوې خواته ډېر زيات طاقت په خپله ولکه کي اخلي نو بل پلو ته موږ دا هم وينو چې ټولنيز فشار د نارينه حاکميت بنيادي لامل دی. پر نر او ښځه چې کوم فشار ټولنه اچوي هغۀ د يوه ټولنيز شعور په سوب مينځ ته راغلی دی چې انعکاس يې د پښتو په شفاهي ادب کښې په ډېره ښۀ توګه شوی دی.

# حوالې

1) Heywood, Andrew (1994) *Political Ideas and Concepts: An Introduction,* London, Macmillan
2) Lears, T.J. Jackson. (2016).The Concept of cultural hegemony: Problems and possibilities. The *American Historical Review*, 90(3), p. 567-593.
3) Foucault, M. (1991). Discipline and Punish: the birth of a prison. London, (1 Penguin.
4) Patriarch." *The Merriam-Webster.com Dictionary*, Merriam-Webster Inc., https://www.merriam-webster.com/dictionary/patriarch. Accessed 4 December 2019.
(5) Watson, Peter. (2005) , Ideas A History from Fire to Freud, Phoenix, London, P.72
(6) **حسن ، سبط (۲۰۱۲ء)،** *پاکستان میں تہذیب کا ارتقا* **، مطبع ذکي سنز-کراچي، ص۴۵**
(7) Mohamand, Qalandar. Online Daryab Pashto Glossary , URL: https://www.qamosona.com/j/index.php Last Accessed, December 12th , 2018
(8) Ibid.
(9) **خټک، خوشال خان-(۲۰۰۱) ، ارمغان خوشحال ، مقدممه سید رسول رسا ، یونیورسټی بک اېجنسئ پېښور ، مخ ۲۳۲**
(10) **خټک، خوشال خان-(۲۰۰۱) ، ارمغان خوشحال ، مقدمه سید رسول رسا ، یونیورسټی بک اېجنسئ پېښور ، مخ ۳۷۹**
(11) Connell, R. W. ( Dec., 1990). A Whole New World: Remaking Masculinity in the Context of the Environmental Movement. *Gender and Society, Vol. 4, No. 4 , pp. 452-478*, 454.
(12) Tainter, Joseph A. and MacGregor, Donald G ( 2011)., Pashtun Social Structure: Cultural Perceptions and Segmentary Lineage Organization - Understanding and Working Within Pashtun Society. Available at SSRN: https://ssrn.com/abstract=1934940 or http://dx.doi.org/10.2139/ssrn.1934940
13) Peberdy D. (2011) Performance and Masculinity. In: Masculinity and Film Performance. Palgrave Macmillan, London
(14) The West in Afghanistan: 18th-19th Century Colonial Ambassadors, Soldiers, and Adventurers in a Racialized "free" and Zubeda Jalalzai Associate Professor of English, Rhode Island College
(15) Lindholm, Charles (1988), The Social Structure of Emotional Constraint: The Court of Louis XIV and the Pukhtun of Northern Pakistan, Source: Ethos, Vol. 16, No. 3, Published by: Wiley on behalf of the American Anthropological Association, pp. 227-246
(16) داود ، داور خان(۱۹۹۷) . پښتو فوکلور کښې اړ، جدون پریس پېښور، مخ ۴۹.
(17) هم دغهٔ اثر مخ ۲۰۲
(18)نورالامین .(2012) *آرٹ، کلچر اور تاریخ* .پشاور :محکم ثقافت و اطلاعات خیبر پشتونخوا مخ ۲۴.
(19) جهان عالم، ډاکټر-(۲۰۱۳)، پښتو ټپه او تلمیحات، خپرندوی پښتو اکېډمی کوټه، مخ ۱۲۳
(20) هم دغه اثر مخ ۱۲۲
(21) هم دغه اثر مخ ۱۲۳